# د قائدِ جمهوریت رهبر تحریک
# خان عبدالولي خان ژوند او شخصیت

رحمت شاه سایل

زۀ چې کله هم د رهبر تحریک خان عبدالولي خان سیاست او شخصیت ته ګورم نو په زړۀ کښې مې د ایلم د غر هومره لوړ یو سپیڅلے قامت جوړ شي. او د کیفیت صورت حال مې بدل



شي. د پښتنو ژوند ژواک او د هغوي تاریخ ته چې ګورم. او خپل ډېر لوئې وطن ته چې ګورم. خپل قام او اولس ته چې ګورم. د خپلو وطني خلقو شعوري سطحې او د لویو طاقتونو چال چلند او رقابتونو ته چې ګورم. خپلو ژوندو تخلیقاتو او د خپلې ژبې غلامۍ او بې وسۍ ته چې ګورم. خپلو درې قامي،اولسي او ادبي دورونو ته چې ګورم. د خپلې آزادۍ او غلامۍ وختونو او خپل اجتماعي جدوجهد او انداز ته چې ګورم او چې راځم راځم. د فخر افغان باچاخان د یو تکلیف ده جدوجهد دردونو،تکلیفونو. او په دغو دردونو کښې لوئې شوے ولي خان او د هغه د سیاست

انداز او جمهوري رويو ته چې ګورم نو د هغه د شخصيت درانه مې نور په زړهٔ او ذهن کښې درانه شي. او داسې درانه شي چې په ذهن کښې مې د هغه د تعريف دپاره د لفظونو قحط پيدا شي.

زهٔ د ولي خان په دې اړخ فکر نه کوم چې هغه څومره خوږ او درونـد انسان ؤ. د پښتنو ژوند ژواک داسې قدرونه لري. چې هر پښتون چې په خپل کلچر کښې لوئي شي او يو دغسې حيثيت اختيار کړي نو هر پښتون زما يقين دے چې هم د دغسې شخصيت مالک کېدے شي. نو زما دپاره د هغه درونـد شخصيت ښه خوئي او ښه نظر کومه د حيرانئ خبره نهٔ ده. خو دا مې ضرور حيرانوي چې د آزادئ نه پس سياست محلاتي سازشونو ته لاړو. په آئين او جمهوريت د ټوقو لوبې شروع شوې. او د اقتدار د لېونتوبونو يوه لېونئ زمانه شروع شوه. د نورو شخصيتونو د قتلونو قيصې خو يو طرف ته که. د بابړې واقعه ترمېنځه راغله. په سوؤنو شهيدان. چې بوډاګان او ماشومان هم پکښې وو او زنانه هم پکښې وې. د دې نه علاوه پکښې قرآنونه هم شهيدان شول. دغسې حالات او د هغې نه د پيدا شوي صورت حال دننه. چې باچاخان څوک کار ته نه پرېږدي. هغه هم د کار دپاره. يا د خپلو روڼو د خدمت او شعور پيدا کولو دپاره افغانستان ته ځي. دلته د مارشلاء ګانو يوه سلسله شروع کېږي. او هرې مارشلاء ته د اقتدار اوګي خلق اوګې ورکوي. سياست ګناه ګڼلے کېږي. د جمهوريت نوم اخستل د جيل په پروانه دستخط کول دي. د دغې حالاتو دننه. يو جمهوري جدوجهد کول. او د جمهوري اولسونو رهنمائي کول. نه اسانه خبره ده او نه وړهٔ خبره. دا تاريخي حالات او واقعات څه خو ليکلے شوي دي او څه لا اوس هم د ليک نه پاتې دي. (چې لګيا دي ليکلے کېږي. او بحث هم پرې کېږي.) تر دې چې د پنجاب د مارشلاء ګانو پيداوار د امريت په غېږه کښې لوئې شوي ځينې سياست دانان په دعوه سره وائي چې مونږ د جمهوري او قام پرستو سياست دانانو ملاګانې ماتې کړي دي. اوس نور مېدان ته نه شي راتلے. او ولي خان چې د يو جمهوري تحريک پيداوار دے. هغه دا خبره د چېلنج په طور قبلوي.

په دغسې حالاتو کښې چې هغه دې د ملک د ټولو جمهوري قوتونو نه جوړه نيشنل عوامي پارټي هم سنبال کړي. د باچاخان په غېر موجودګئ کښې دې د هغه د خدائي خدمتګارو زړونه هم ټکوروي. او د اقتدار د سپي توب په زمانه او خلقو کښې دې د آئين،قانون،جمهوريت او صوبائي خودمختارئ چغې هم وهي. او جمهوري روئې دې هم پيدا کوي. دا اسانه خبره نه وه. که چرې مونږ د دې ټولو حالاتو په ليکلو کښې کامياب شو. او په دې کښې کامياب شو چې د دې په حقله موجودې ليکنې راټولې کړو. نو د دې تاريخي دويم هيرو به د باچاخان نه پس يقيناً چې خان عبدالولي خان او د باچاخان روزلي خدائي خدمتګاران او د ولي خان د دور جمهوري او ترقي

پسند قوتونه وي.

ولـي خـان په هغو خلقو کښې دے چا چې په اصلي معنو کښې د آئين،قانون،عدليې،مقننې او جمهوريت دپاره راهنمايانه کردار ادا کړے دے. چرته چې خلق د خپل ذاتي اقتدار دپاره د آئين، قانون،عدليې او ملک په مرۍ چاړه ګدي. هلته ولي خان خلقو ته د جمهوريت او حقونو د حصول سپارې مخې ته ګدي او د اقتدار د بوئي نه هم ځان ساتي. په دې دومره او دغسې جدوجهد کښې هغه لګيا دے دومره لوئې تاريخي کتابونه هم ليکي. او مونږ ته د فرنګي،مغل او نورو يرغلګرو د مخونو نه که پردې پورته کوي نو عين په دغه وخت د جمهوريت په نوم د ډکټيټرانو د مخونو نه پلو هم پورته کوي اوخپل خلق د جمهوري رويو سره بلدوي. او دغسې د مرګ تر آخري سلګۍ پورې کوي. د ولي خان په مرګ که جمهوري خلق او خصوصاً پښتانه او د نورو وړو صوبو جمهوريت پسند خلق په وينو او اُښکو ژاړي نو د دۀ د شخصيت دې خوګو او درنو ته کتل ضروري دي چې د هغه سياسي مخالفين هم د هغه د دغسې شخصيت اعتراف کوي. هسې په دغسې جدوجهد هم پښتنو ډېره ګټه کړې. خو کومه اجتماعي ګټه چې پښتنو کړې ده. هغه په پوره پېړۍ خور ؤور د هغوي قامي،اولسي،ادبي او تاريخي جدوجهد او د هغې تاريخ دے. او هغه پېدا شوے شعور دے کوم چې تراوسه د وړو صوبو جمهوري خلقو د دوي د تحريکونونه اخستے دے. پښتون کم از کم اوس يو قوم جوړېدو طرف ته روان دے. د زړۀ غټاوي د دې خبرو سره سره د هغې ټپې په شان چې وائي :

زړۀ مې په شمار ځلور ټوټې شو
هره ټوټه د جدائۍ نعرې وهي نه

اوس د پښتنو د وطن د هرې ټوټې نه هم هغه د جدائۍ آوازونه راځېژي. او پښتانه لګيا دي د دې خبرې شعور نه صرف حاصلوي. بلکې وده هم ورکوي. دا ځکه چې زمونږ د جدوجهد د ژوند ژواک بنيادونه دغسې مظبوطو خلقو ايښې هم دي او پاللي ئې هم دي.

مونږ خپل دغې تاريخونو په دې هم پوهه کړي يو چې وطن،قام او اولس له کار کول يو مسلسل عمل دے او ورسره په دې هم پوهېږو چې وړومبے د روستي پُل وي!!

ځکه نو مونږ هسې د خولې دعوه نه کوو.

د ولي خان په يو تن او بدن کښې سياست دان هم دے. جمهوريت نوازي خو ئې جامه ده. هغه صحافي هم دے. د قلم او کتاب خاوند هم. يو لوئې راهنما هم دے. لوئې خدائې پرې د داسې بدن او قد و قامت پېرزوينه هم کړې وه چې نه يوازې په کردار او ګفتار د هر چا نه لوئې ښکارېدو. بلکې په قد و قامت هم د هر چا نه لوئې ؤ. هم هغه د يو پښتون شاعر خبره چې :

ما کاته ستا بلند قد ته ګل بدنه
د دستار په ځائې مې سر پرېوت له تنه